# SCHOOL ENGLISH
# GHAIRAT "BAHEER"
By
2021

بسم الله الرحمن الرحیم

# School Vocabulary Words
# د ښوونځي د کلماتو مجموعه

## School Objects د ښوونځي څیزونه

**Classroom objects** are objects that help students during the learning process.
د تولګي څیزونه: هغه څیزونه دي چې د زده کوونکو سره د زده کړې په دوران کې مرسته کوي.

1. Desk مېز
2. Chair چوکۍ
3. Book کتاب
4. Notebook کتابچه
5. Pencil case د پنسلونو بټوه
6. Backpack بکسه
7. Scissors بیاتي
8. Compass پرکار
9. Pins پن/ سنجاق
10. Clip کلیپ
11. Pencil پنسل
12. Coloured pencil (U.K) – Colored pencil (U.S) رنګه
13. Pencil sharpener پنسل تراش
14. Stapler سټیپلر
15. Calculator د حساب ماشین
16. Ballpoint قلم
17. Highlighter ځلوونی/ هایلایټر
18. Rubber(U.K) – eraser (U.S) پنسل پاک
19. Scotch tape سرېښ پټۍ/ لاشنتایپ
20. Paint د نقاشي رنګ
21. Palette د نقاشۍ د رنګ تخته
22. Paint brush د نقاشۍ برش
23. Protractor نقاله
24. Set square ګونیه
25. Ruler خط کش
26. Glue سرېښ
27. Beaker بیکر / ګیلاس
28. Flask فلاسک/ نرۍ غاړې بوتل
29. Test tube ازمېښت ټیوب/ ټیسټ ټیوب
30. Funnel قیف
31. Binder بنت/ بایندر
32. Computer کمپیوټر
33. Paper ورقه/ پاڼه
34. File holder دوسیه/ فایل
35. Map نقشه
36. Magnifying glass ذره بین
37. Clock ساعت




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



38. Blackboard — توره تخته
39. Globe — د ځمکې کره

**Some electronic devices and equipment in school are as follow:**

**په ښوونځي کې ځيني برښنايي وسايل په لاندې ډول دي:**

- Computer — کمپيوټر
- Monitor — مونيټور
- Speakers — لاوډ سپيکر
- Projector — پروجکټور
- Air conditioner — آير کنډيشن
- Remote control — ريموټ
- Mouse — ماوس
- Keyboard — ليک دړه/ کيبورډ
- Plug — سويچ/ پلک
- Stereo/ CD player — سي ډي
- Electronic dictionary — برښنايي ډکشنري
- DVD/ Video player — ډي وي ډي
- Fan — پکی




## School Rooms and Places
## د ښوونځي کوټې او ځايونه

Learn school buildings and places in English.
د ښوونځي ځايونه او ودانۍ په انګليسي زده کړئ.

- The schoolyard — د ښوونځي انګړ/ حوېلی
- The Principal's office — د مدير دفتر
- The classroom — ټولګی/ صنف
- The music room — د ساز/ موسيقۍ خونه
- The art room — د هنر/ نقاشۍ خونه
- The computer room — کمپيوټر خونه
- The library — کتابتون
- The lockers — سندوخچه/ الماری
- The pool — ډنډ/ حوض
- The baseball field — د بيسبال ميدان
- The playground — د لوبو ميدان
- The toilet — تشناب

## School Subjects د ښوونځي مضمونونه

- Holy Quran — قرآنکريم
- Islamic Studies — اسلاميات
- Maths (U.K) – Math (U.S) — رياضي
- Art — هنر
- English — انګليسي
- History — تاريخ
- Science — ساينس

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Geography جغرافيه
- Information technology معلوماتي ټکنالوژي
- Biology بيولوژي
- Drama ډرامه
- Swimming لامبو
- Physical education فزيکي زده کړې

**People at School په ښوونځي کې خلک**

- Teacher ښوونکی
- Classmate ټولګیوال
- Coach روزونکی
- Cook پخونکی/اشپز
- Janitor ور ساتونکی/ دروازه وان
- Librarian کتابدار/ د کتابخاني مسؤل
- President رئیس
- Principal مدیر
- Professor پروفيسور/ پوهاند
- Secretary منشي
- Students زده کوونکي




## Daily Use English Conversation Sentences at School or Classroom

**په ښوونځي او ټولګي کې د خبرو اترو ورځنۍ انګلیسي جملې.**

Let us learn daily use English Conversation sentences at school or classroom about activities of Kids and Students. These can be used by teachers to train their students.

راځئ چې په ښوونځي او ټولګي کې د زده کوونکو د فعالیتونو په اړه ورځنۍ انګلیسي جملې زده کړو. نوموړې جملې د ښوونکو له خوا د زده کوونکو د روزنې لپاره کارېدلی شي.

1. There is no homework for tomorrow.

   د سبا ورځې لپاره کورنۍ دنده نشته.

2. Note down the homework for tomorrow. Page numbers 5, 6 and 7 of the English Grammar Textbook.

   د سبا ورځې لپاره کورنۍ دنده نوټ کړئ. د انګلیسي ګرامر د کتاب ۵، ۶ او ۷ مخ.

3. Go to Chapter 1. Copy all the Synonyms from the Textbook to the notebook.

   د کتاب لومړي څپرکي ته لاړ شئ. د کتاب څخه ټولې مترادفې بنې کتابچې ته انتقال کړئ.

4. Those who have not completed the homework, Standup.

   چا چې کورنۍ دنده نه ده بشپړه کړې، ودرېږئ.

5. Come on to the dais and write on the blackboard.

   د ټولګي مخې ته راشئ او په توره تخته ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



6. Is everyone able to see the Blackboard?

ایا توره تخته ټولو ته ښکاري؟

7. Monthly tests will begin on the 17th of this month.

میاشتني ټیسټونه (ازموینې) به ددې میاشتې په (۱۷) نېټه پیل شي.

8. Math's exam is postponed to Monday.

د ریاضي ازموینه د دوشنبې ورځې ته وځنډېده.

9. Post exams, students will be getting 10 days holidays.

د ازموینو څخه وروسته به زده کونکي ۱۰ ورځې رخصتي ولري.

10. Collect your new books from the office room paying 100 Afghanis each.

نوي کتابونه مو د اداري څخه د (۱۰۰) افغانیو په بدل کې ترلاسه کړئ.

11. What is the homework for today? (Mother asking her kid)

(مورد خپل ماشوم څخه پوښتنه کوي) د نن ورځې لپاره کورنی دنده څه ده؟

12. Homework is there in all the subjects.

په ټولومضمونونو کې کورنی دنده شته دی.

13. How many marks did you get?

څونمبرې دې واخیستې؟

14. Students should show the progress card to their parents and get those signed.

زده کوونکي بایدخپلي اطلاعامي خپلو والدینو ته وښايي اودهغوی لاسلیک دې واخلي.

15. If you get fewer marks, you better join a Tuition.

که چېرې کمې نمبرې اخلې،نو دا درته غوره ده چې ټیوشن(ځانګړی کلاس) واخلې.

16. Our school conducts Tuitions in the evening for an extra fee.

زموږ ښوونځی په ماښام کې داضافي فیس په بدل کې ټیوشن (ځانګړي کلاسونه) تدریسوي.

17. Write properly.

په سمه توګه یې ولیکئ.

18. Read twice and write once in the notebook.

دوه ځلې یې ولولئ اویوځل یې په کتابچه کې ولیکئ.

19. Abdullah, come and read aloud the paragraph number one.

عبدالله راشه اولومړی پراګراف په لوړغږ ولوله.

20. Fiza got 20 out of 20 in the exam. Give her a big clap.

فضاء په ازموینه کې له(۲۰) څخه (۲۰) نمبرې واخیستې، ښه چک چک ورته وکړئ.

21. Teach your son to study for a long time. (Teacher to parents)

(ښوونکی والدینو ته) زوی ته مو ووایاست چې د ډېر وخت لپاره مطالعه وکړي.

22. All of you stand up. Make a move. تاسې ټول ودرېږئ .حرکت وکړئ.

23. Its playing time. Students should come one by one out of their classrooms.

اوس د لوبو وخت دی.زده کوونکي باید یو،یو له ټولګي څخه بهر راووځي.

24. Do not turn your head during the exam. دازموینې په دوام کې مو سر مه اړوئ.

25. My teacher asked you to call her. (Kid to the parent)

(ماشوم خپل مور/پلار ته) ښوونکې مې غوښتنه وکړه چې تاسې هغې ته زنګ ووهئ.

26. Our school conducts music classes. Do you want to enroll your kid?

زموږښوونځی دانګلیسي ټولګي پیلوي.ایاتاسې په کې خپل ماشوم داخلوئ؟

27. All those who know the answer, raise your hands. هر چاته چې ځواب زده وي.لاسونه موپورته کړئ.

28. Zabit, what is the time now. Why are you late to school regularly?

ظابطه! اوس څوبجې دي؟ ولې ښوونځي ته هروخت ناوخته راځې؟

29. Madam, our school bus is always late on our route.

ښوونکې! زموږ دښوونځي بس زموږ طرف ته هروخت ناوخته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



30. Bring your father's phone number tomorrow. I want to speak to him.
سبا ته دې دپلار د موبائيل شمېره راوړه. زه غواړم چې خبرې ورسره وکړم.

**Here are some more used phrases in the classroom. په ټولګي کې ځيني نور دېرکارېدونکي عبارتونه**

**Good morning سهر په خير.**

- Good morning, everybody. ټولو ته سهر په خير.
- Good afternoon, everybody. ټولو ته ماسپښين په خير.
- Hello, everyone. ټولو ته سلام.

**How are you? تاسې/ ته ښه يې؟**

- How are you today? تاسي نن ورځ ښه ياست؟
- How's life? ژوند ښه دی؟
- Are you feeling better today, Irfan? عرفانه! ايا تاسي نن ښه احساس کوئ؟

**Time to begin دپيل وخت**

- Let's begin our lesson now. راځئ چې اوس خپل درس پيل کړو.
- Is everybody ready to start? ايا ټول چمتو ياست چې درس پيل کړو؟
- I think we can start now. زه فکر کوم چې اوس يې موږ پيلولی شو.
- Now we can get down to work. اوس موږ کولای شو خپل کارپيل کړو.

**Waiting to start دپيل لپاره انتظار**

- I'm waiting for you to be quiet. زه انتظار کوم چې تاسي غلي شئ.
- We won't start until everyone is quiet. ترڅو ټول غلي نه شئ موږ پيل نه کوو.
- Stop talking and be quiet.' خبرې بندې کړئ او غلي شئ.
- Settle down now so we can start. اوس کېنئ/ ځای پرځای شئ ترڅوموږپيل وکړای شو.

**Put your things away شيان مولري کېږدئ.**

- Close your books. کتابونه موبند کړئ.
- Put your books away. کتابونه مولري کېږدئ.
- Pack your things away. شيان موټول کړئ.

**Register حاضري**

- Who is absent today? نن څوک غير حاضر دي؟
- Who isn't here today? نن څوک نشته؟
- Why were you absent last Friday? ولي تېره شنبه غيری حاضر وې؟

**Lat ناوخته**

- Where have you been? تراوسه چېرته وې؟
- We started ten minutes ago. What have you been doing? موږ (۱۰) دقيقې مخکې پيل وکړ تا تراوسه څه کول؟
- Did you miss your bus? آيا بس درڅخه لاړه؟
- Did you oversleep? آيا ډېرخوب دي وکړ؟
- Don't let it happen again. کوښښ وکړه بيا داسي ونه شي.

**Wait a minute يوه دقيقه انتظار**

- Hang on a moment يوه شېبه دوام ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Just hold on a moment. — فقط یوه لحظه منتظرشئ.
- Stay where you are for a moment. — هرچېرته چي یاست یوه شیبه تم شئ.
- Just a moment, please. — د مهربانۍ له مخې فقط یوه شیبه.
- One more thing before you go. — مخکې له دې چي لاړ شئ یو بل څه!
- Back to your places — خپلو ځایونه ته واپس شئ.

**Homework** — **کورنۍ دنده**

- This is your homework for tonight. — دا د نن شپې لپاره ستاسي کورنۍ دند ده.
- Prepare the next chapter for Monday. — بل فصل د دوشنبې ورځې لپاره چمتو کړئ.
- There is no homework today. — د نن ورځې لپاره کورنۍ دنده نشته.
- Remember your homework. — کورنۍ دنده مو په یاد ولرئ.
- Take a worksheet as you leave — د تلو په وخت کې یوه کار پاڼه له ځان سره واخلئ.

**Goodbye** — **مخه ښه / خدای پاماني**

- Goodbye, everyone. — د ټولو په مخه ښه.
- See you again next Wednesday. — راتلونکي چهارشنبه به سره وګورو.
- See you tomorrow afternoon. — سبا ماسپښین به سره وګورو.
- See you in room 7 after the break. — له تفریح وروسته به په ( ۷) خونه کې سره وګورو.
- Have a good holiday. — ښه رخصتی ولرئ.
- Enjoy your vacation. — له رخصتی نه مو خوند واخلئ.

**Giving instructions** — **لارښووني کول**

- Open your books at page 52. — د خپلوکتابونو (۵۲) صفحه خلاصه کړئ.
- Come out and write it on the board. — راشه او په تخته یی ولیکئ.

- Listen to the tape, please. — مهرباني وکړئ ټیپ ته غوږ شئ.
- Get into groups of four. — څلور کسیز ګروپونه جوړ کړئ.
- Finish off this poem at home. — دا شعر په کور کې بشپړ کړئ.
- Let's sing the national anthem. — راځئ چي ملي سرود زمزمه کړو.
- Everybody, please. — ټول مهرباني وکړئ.
- All together now. — اوس ټول یو ځای.
- The whole class, please. — ټول کلاس مهرباني!
- I want you all to join in. — زه غواړم چي تاسي ټول ېکي ګډون وکړئ.
- Could you try the next one? — ایا په دې بل باندي کوښښ کولای شئ؟
- I would like you to write this down. — زه غواړم چي دا ته ولیکي.
- Would you mind switching the lights on? — که نه خفه کېږي ګروپونه روښانه کړه؟
- Who would like to read? — څوک غواړي چي ویې لولي؟
- Which topic will your group report on? — ستاسي د ګروپ راپور به د کومي موضوع په اړه وي.
- Do you want to answer question 3? — ایا غواړئ چي دریيمي پوښتني ته ځواب ورکړئ؟

**Other General English Phrases for Using Classroom** — **په ټولګي کې نور عمومي کارېدونکي انګلیسي عبارتونه**

- What page are we on? — مورږ په کومه پاڼه کې یو؟
- I am ready. May I start it? — زه چمتو یم. ایاّ زه یې پیلولی شم؟
- Can I go out? — ایاّ زه بهر وتلی شم؟
- Can I answer the question? — ایاّ زه پوښتنه ځوابولی شم؟
- Can I switch off the lights? — ایاّ زه ګروپونه بندولی شم؟
- Teacher, please can you repeat again? — ښوونکیه! دمهربانی له مخې، ایاّ بیا یې تکرارولی شئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| • Can I open the window? | ایا زه کړکی خلاصولی شم؟ |
| • Can we pack our things now? | ایا اوس خپل ځیزونه ټولی شو؟ |
| • May I join the class/group? | ایا زه په ټولګي/ ګروپ کي ګډون کولی شم ؟ |
| • What is the homework? | کورنی دنده څه ده؟ |
| • Do we have to write this down? | ایا موږ باید دا ولیکو؟ |
| • Sorry, for being late. | په ځنډ راتګ لپاره بخښنه غواړم. |
| • May I open / close the window? | ایا زه کړکی خلاصولی/ بنده ولی شم؟ |
| • Can I go to the board? | ایا زه تختي ته تللی شم؟ |
| • Can I come in? | ایا زه دننه راتللی شم؟ |
| **Very good**. | **ډېرښه** |
| • That's very good. | ډېرښه دی. |
| • Well done. | آ فرین. |
| • That's it. | همدا دی/سم دی. |
| • Yes! | هو! |
| • Fantastic! | عجیبه! |
| • Very fine. | ډېر ښه |
| • That's nice. | ښایسته دی. |
| • I like that. | زه يي خوښوم. |
| • Marvelous! | عجیب/جالت! |
| • You did a great job. | تا يو غټ کاروکړ. |
| • Terrific! | فوق العاده! |
| • Wow! | جالب ځیز! |
| • That's correct. | سم دی. |
| • Quite right. | صحیح دی. |
| • That's right. | صحیح دی. |
| • That's quite right. | په بشپړه ډول صحیح دی. |
| • It depends. | دا تړاو لري. |
| • That's much better. | ډېرزیات ښه دی. |
| • In a way, perhaps. | له يوې خوا ښايي. |
| • You've impressed a lot. | تا ډېرمتاثرکړی دی. |
| • Sort of, yes. | تقریباً /هو. |
| • That's more like it. | هغه ډېردي غوندي دی. |
| • It might be, I suppose | فکرکوم/ښایي وي. |
| • That's a lot better. | هغه ډېرښه دی. |
| • There's no hurry. | بیړه نشته. |
| • Have a guess. | فکروکړه. |
| • That's almost it. | ته ورنېږدي يي/ته ځواب ته نېږدي يي تقریباً همدا دی. |
| • You're halfway there. | ته تقریباً صحیح وی. |
| • There's no need to rush. | بیړي ته اړتیا نشته. |
| • We have plenty of time | موږډېروخت لرو. |
| • Unfortunately not. | له بده مرغه نه. |
| • I'm afraid that's not quite right. | زه وېرېږم چي هغه ځواب به په بشپړډول سم نه وي. |
| • Not quite right. Try again. | په بشپړ ډول سم نه دی. بیا هڅه وکړه. |
| • Good try, but not quite right. | ښه هڅه، مګر په بشپړډول صحیح نه دی. |
| • You can't say that, I'm afraid. | زه وېرېږم چي ته دا کلمه نشي کارولی. |
| • You can't use that word here. | ته دا کلمه دلته نشي کارولی. |
| • Have another try. | بیا ځلي هڅه وکړه. |

(c) ketabton.com: The Digital Library


- Not really. نه ریښتیا/ دواقیعت له مخي نه.
- Not exactly. کټ مټ نه.

**Special situations** **ځانګړي حالتونه**

- Happy birthday! د زوکړې ورځ مومبارک شه!
- Happy Eid-ul-Fiter/ Happy Eid-ul-Adha! کوچنی اختر مو مبارک شه!/لوی اختر مو مبارک شه!
- I hope you all have a good Eid. په دې هیله چې ټول یو ښه اختر ولرئ.
- Happy New Year! نوی کال مومبارک شه!
- Nikmal has his 24th birthday today. نن دنیکمل (۲۴) مه د زوکړې ورځ ده.
- Khkola is eleven today. Let's sing "Happy Birthday"
  نن ښکلا (۱۱) کلنه شوه. راځئ چي «د زوکړې ورځ مبارک» ورته ووایو.
- God forgive you! الله مو وبخښه!
- Have a nice weekend. ښه رخصت ولرئ.
- Thanks for your help. له مرستي مو مننه.
- Best of luck. نیکمرغه اوسئ.
- Good luck. ښه چانس.
- I hope you pass. هیله مند یم چي تاسي بریالي شئ.
- Congratulations! مبارک!/تبریک!
- Well done! آفرین!
- Hard lines! سخت دریځه!
- Never mind. هیڅکله مه خفه کیږه/ مه خفه کیږه.
- Better luck next time. راتلونکي ته ښه چانس/بل وخت ښه چانس.
- Do you feel better today? آیا نن ورځ ښه احساس کوئ؟
- Are you better now? آیا اوس ښه یی؟
- Have you been ill? آیا تر اوسه ناروغ یې؟
- What was the matter? څه خبره وه؟
- I'll be back in a moment. زه به یوه شیبه کي بیرته راشم.
- Carry on with the exercise while I'm away. کله چي زه لري یم تاسوتمرین ته دوام ورکړئ.
- I'm afraid I can't speak any louder. زه ویریږم چي زه په لوړغږ خبري نشم کولای.
- I seem to be losing my voice. ماته داسي ځرګندیږي چي زه خپل غږ له لاسه ورکوم.
- I have a headache. سر مي خوږیږي.
- I'm feeling under the weather. زه د ناروغی احساس کوم.
- Do you mind if I sit down? که چیرې زه کینم تاسو خو نه خفه کیږئ؟
- I have a sore throat. ستونی مي خوږیږي.

**THE END OF THE LESSON** **د درس پای**

**Time to stop** **د ودریدو وخت**

- Let's stop now راځئ چي اوس یي ودروو./راځئ چي اوس یي بس کړو.
- It's time to finish now. اوس یي د پای ته رسیدو وخت دی.
- It's almost time to stop. تقریباً د ودرولو وخت دی.
- We've run out of time..زموږ وخت بشپړ شوی دی
- We'll have to stop here. موږ یي دلته باید پای ته ورسوو.
- There's the bell. It's time to stop. زنګ دی/زنګ ووهل شو.د ودرولو وخت دی.
- That's all for today. You can go now. دنن ورځي لپاره همدوره و. تاسي اوس تلای شئ.
- Have you finished? ایا پای ته مو رسولی دي؟
- Stop now. اوس یې بس کړئ.
- Any questions? کومه پوښتنه؟
- Collect your work please. مهرباني وکړئ کورنی دندې مو راټولې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Pack up your books. کتابونه مو ټول کړئ.
- One minute to finish that activity. It's nearly time to go.
  ددې کار د پای ته رسولو لپاره یوه دقیقه پاتې ده. د تګ وخت نږدې دی.
- Are your desks tidy? آیا میزونه مو پاک دي.
- Don't forget to bring your computers tomorrow
  تاسې دا مه هېروئ چې سبا خپلې کمپیوټري له ځان سره راوړئ.
- The next class is waiting outside to come in. بل کلاس بهر انتظار کوي چې دننه راشي.
- You'll be late for your next class (if you don't stop now)
  که تاسې یې اوس بس نکړئ. نو بل ټولګی مو ناوخته کیږي.
- We'll have to finish this tomorrow/ in the next lesson
  موږباید داسباته /راتلونکي درس کې پای ته ورسوو.
- Look at the time/ What time is it now? وخت ته وګورئ /اوس څه وخت دی.
- That's all we had time for today. دنن ورځ لپاره موږ همدومره وخت درلوده.

## Not time to stop د بس کولو وخت نه دی./د ودرېدو وخت نه دی.

- The bell hasn't gone yet. تراوسه زنګ نه دی وهل شوی.
- The lesson doesn't finish till ten past. تر (۱۰) باندې پورې وخت نه ختمیږي.
- Hang on a moment. یوه شیبه ځنډ وکړه.
- We seem to have finished early. داسې ښکاري چې موږ وختې پای ته رسولی دی.
- Just a moment, please. مهرباني وکړئ یوه شیبه.
- Just a second/ Wait for it! ددې لپاره یوه ثانیه انتظار وکړئ.
- There are still three minutes to go. دتګ لپاره تر اوسه درې دقیقې پاتې دي.
- Just hold on a moment. یوه شیبه تم شه.
- One more thing before you go. د تلو نه مخکې یو بل شی.
- We still have a couple of minutes left. موږ اوس هم څودقیقې لرو.
- Your watch must be fast. ستا ساعت به مخکې وي.
- We have an extra five minutes. موږ پینځه دقیقې اضافي وخت لرو.
- Sit quietly until the bell goes. دزنګ تروهلو غلي کینئ.
- Ali, you have to stay five extra minutes (as I told you earlier/ because you…)
  علي! ته باید (۵) دقیقې نورهم پاتې شې (لکه څنګه چې مامخکې درته وویل/ځکه چې ته...)
- Back to your places. بیرته خپلو ځایونو ته لاړ شئ.
- Stay where you are for a moment. دیوې شیبې لپاره خپلو ځایونو ته لاړ شئ.

## Homework کورنۍ دنده

- Remember your homework. کورنۍ دنده مو په یاد ولرئ.
- Take a worksheet as you leave. چې کله تلئ یوه کارپاڼه له ځان سره واخلئ.
- What do you have to do before the next lesson? دبل درس نه وړاندې تاسې باید څه وکړئ؟
- This is your homework for tonight. دنن شپې لپاره دا ستاسې کورنۍ دنده ده.
- Finish this exercise. . داتمرین پای ته ورسوئ.
- Do the next exercise tonight, and we'll check it tomorrow. بل تمرین نن شپه وکړئ.اوسبا ته به یې وګورو.
- Prepare the next chapter for Tuesday. راتلونکی فصل/چیپټر دسې شنبې ورځ لپاره چمتو کړئ.
- Do exercise 5 on page 36 for your homework. There is no homework today.
  په(۳۶)صفه کې پینځم تمرین دکورنۍ دندې لپاره ترسره کړئ. نن ورځ تاسې کورنۍ دنده نه لرئ.
- There is no homework tonight (but there will be tomorrow) دنن شپې لپاره کورنۍ دنده نشته (مګر سبا به وي).

## Next time راتلونکی وخت

- The next class starts at 7 o'clock. راتلونکی ساعت مو په (۷) بجې پیلیږي.
- We'll do the rest of this chapter next time. موږ به ددې چیپټر/فصل پاتې برخه بل وخت ترسره کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- We've run out of time, so we'll continue next lesson.
  زموږ وخت پای ته رسېدلی دی؛نو موږ به بل درس ته دوام ورکړو.
- Chapter we'll continue this next Monday. موږ به ددې نور تمرین په راتلونکي ټولګي کي وکړو.
- We'll finish this exercise next lesson. موږ به دا تمرین په راتلونکي درس کي پای ته ورسوو.
- We're going to continue with this tomorrow, so please sit together again.
  موږ به سبا دې ته دوام ورکړو؛ نومهرباني وکړئ بیا یو ځای کېنئ.

**Goodbye** **خدای پاماني**

- Goodbye, everyone. دټولو دې خدای مل شي.
- See you again next Thursday/ next week/ tomorrow/ on Monday
  راتلونکي پنجشنبه/راتلونکي اونۍ/سبا/ دوشنبه به سره وګورو.
- Have a good holiday. ښه رخصتي ولرئ.
- Enjoy your vacation. له رخصتی مو خوند واخلئ.
- See you tomorrow afternoon. سبا ماسپښین به سره وګورو.
- Stand up and say goodbye to the class, please
  مهرباني وکړئ ودرېږئ اوټولګي ته مو خدای پاماني وواياست.
- See you in room 8 after the break. دتفریح وروسته به اتمه خونه کي وګورو.

**Leaving the room** **ټولګی پرېښودل**

- Form a queue (UK) and wait for the bell. قطار/لین جوړ کړئ او زنګ ته منتظر شئ.
- Get into a queue (UK). قطار کي ودرېږئ/داخل شئ.
- Be quiet as you leave. Other classes are still working.
  کله چي ځئ غلي اوسئ. نورکلاسونه/ټولګي تر اوسه کار کوي.
- Try not to make any noise as you leave. کله چي ځئ هڅه وکړئ چي شور ونکړئ.
- Everybody outside! ټول بهر ووځئ!
- All of you get outside now! اوس تاسي ټول بهر ووځئ!
- Hurry up and get out! بیړه وکړئ بهر ووځئ!
- Line up. قطارجوړکړئ.

**Classroom Phrases in English for Teachers and Students**
دټولګي انګلیسي عبارتونه د ښوونکو او زده کوونکو لپاره

1. Register (role-call) حاضري
"present" or "here" حاضریم.
"Yes Sir/Miss". حاضریم.

2. Is everybody ready to start? آیا ټول چمتو یاست چي پیل وکړو؟
3. Fingers on lips! ګوتي په شونډو کېږدئ!
4. Homework excuses دکورنی دندي بهاني

- I did it but I left it at home. ما کورنی دنده ترسره کړه؛ خو په کور کي راڅخه پاتي شوه.
- I left it in my dad's car. دپلارپه موټرکي راڅخه پاتي شوه.
- I didn't know it was due today. زه پوه نه شوم چي د نن ورځي لپاره ده.

**Activities** **فعالیتونه**
It's time for the first activities of the day! د ورځي د لومړنیو فعالیتونو وخت دی!
1. Show and Tell (Showtime) وښایاست او ووایاست (دښودلووخت)

(c) ketabton.com: The Digital Library


2. Circle Time دداېرې وخت /دګروپي کاروخت
3. Find a partner/get into groups of four یوملګری پیداکړئ/څلور کسیزه ګروپونو کې ګډون وکړئ.
4. Come up to the front and show the class! دټولګي مخې ته راشه او ټولګي ته یې وښایاست!
Come up to the front and explain the problem to the class
دټولګي مخې ته راشه اوټولګي ته ستونزه (درياضي سوال) تشريح کړه.
Come up to the front and write your answer on the board.
دټولګي مخې ته راشه او ځواب دې په تخته وليکه.

Lunchtime د غرمنۍ/ غرمې ډوډۍ وخت

- Does everyone have their lunch? آیا هر یو خپله غرمنۍ لري؟
- Who has a packed lunch? څوک بنده/ تړلې غرمنۍ لری؟
- Who is having a hot dinner? څوک ګرمه ماښآمنۍ/ د ماښام ډوډۍ لري؟
- Sport – football, cricket, basketball ورزش – فوټبال - کرکټ – باسکټبال

- Tag پټ پټانی
- Catch نيول/ کيچ کول

End of the day (home time) د ورځې پای (کور ته د تلو وخت)
Pack your things away. شيان مو ټول کړئ.
Have you had a good day? آیا تاسې ښه ورځ درلوده؟
What did you learn today? نن مو څه زده کړل؟

**44 Daily Use English Sentences in School په ښوونځي کې (۴۴) ورځنۍ کارېدونکې جملې**
**Introducing Yourself and Meeting New People خپل ځان معرفي کول او له نورو خلکو سره لیدنه**

Hello. What's your name? سلام. ستا نوم څه دی؟
My name is Fiza. What's yours? زما نوم فضاء ده. ستا نوم څه دی؟
Hello. I'm Khkola. Would you like to be friends? سلام. زه ښکلا یم. آیا غواړې چې سره ملګري شو؟
Sure, I'd love to! هو/ داېه اوسه، زه هم غواړم!
Hey. Is anyone sitting here? ای! آیا دلته څوک کېني؟
No, but you can sit here if you want. نه، مګر که ته غواړې کېناستلی شې.
Which grade (US)/class (UK) are you in? ته په کوم ټولګي کې يې؟
I'm in ninth grade! What about you? زه په نهم ټولګي کې یم! او ستا په اړه څنګه؟
Do you want to be partners for the group project? I don't have one yet.
آیا غواړې ما سره په ګروپي کورنۍ دنده/ پروژه کې ملګرى شې؟ زه تر اوسه کوم ملګرى نه لرم.
Sure! داېه اوسه/ هو!

**Class-related Topics, Questions and Phrases د ټولګي مربوط موضوعګانې، پوښتنې او عبارتونه**
What's the homework for today? د نن ورځې لپاره کورنۍ دنده څه ده؟
We have to write an essay on "Our English Teacher" موږ باید (زموږ د انګلیسي ښوونکی) په اړه یوه مقاله ولیکو.
What do we have for first period? لومړی ساعت مو څه شی دی؟
Math. رياضي.
Do you have the new timetable/schedule? آیا نوی مهالوېش لرې؟
Yes! It's in my bag. Do you need that? هو زما په بیګ کې دی. آیا ته ورته اړتیا لرې؟
I missed class yesterday. Can I look at your notes? تېره ورځ مې کلاس میس کړی دی. آیا ستا نوټونه اخيستلی شم؟
Sure! هو/ داېه اوسه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



What time do we have lunch? موږ څه وخت غرمنۍ لرو/ خورو؟
At noon. په غرمه کې.
Did you bring your lunch? آیا تا دې غرمنۍ راوړه؟
Yes. My mother packed some pancakes she made this morning.
هو، زما مور چې سهر کلچې/ خوږې ډوډۍ پخې کړې هغه یې را ته تړلې دي.
What did you have at lunch today? نن دې غرمنۍ کې څه وخوړل؟
I had two pieces of toast and an apple. ما دوه برخې پراټه او یوه منه وخوړه.
Will you sit with me during break? آیا تفریح کې ما سره کېنې؟
Yes, sure! هو/ ډاډه اوسه!
What do you think of the school's cafeteria food? د ښوونځي د رسټورانټ د خوړو په اړه څه فکر کوئ؟
I don't like it much. زه یې ډېر نه خوښوم.
I forgot my lunch. Can you share with me? ما خپله غرمنۍ هېره کړه. آیا تاسي یې ما سره شریکولای شئ؟
Yes, of course. هو، خامخا

Phrases for Making Small Talk د لنډو خبرو اترو لپاره عبارتونه:

How do you come to school? ته ښوونځي ته څنګه راځې؟
I come by the school bus. What about you? زه د بس په واسطه ښوونځي ته راځم. ستا په اړه څنګه؟
I find history very difficult. تاریخ (مضمون) ما ته ډېر ستونزمن دی.
For me too. I can't remember so many dates! ما ته هم. زه ډېرې نېټې نه شم زده کولای.
What's your favorite subject? ستا د خوښې مضمون څه دی؟
Mine is English. Your? زما انګلیسي. او ستا؟
Have you read this book? آیا دا کتاب دې لوستلی دی؟
Yes, I borrowed it from the library and enjoyed it.
هو، ما دا کتاب د کتابخانې څخه قرض کړ او خوند مې ترې واخیست.
Did you watch the new movie? آیا نوی فلم دې ولید؟
Oh, the 3 Idiots one? I did and enjoyed it much..هو، هغه درې کم عقلانو والا؟ ما ولید او ډېر خوند مې ترې واخیست

**Phrases to Use While Entering and Leaving the Class**
**هغه عبارتونه چې ټولګي ته د ننوتلو او وتلو په وخت کارېږي:**

- Ma'am/ Sir, may I come in? ښوونکې/ ښوونکیه! آیا زه دننه درتلای شم؟
- May I go to the washroom/restroom? آیا زه تشناب ته تلی شم؟
- Sir, I'm feeling very ill. May I please go to the sickroom/nurse's office?
ښوونکیه! زه ډېر د ناروغی احساس کوم. آیا د ناروغ خونې/ نرس دفتر ته تلای شم؟

**Phrases to Use When Asking the Teacher Questions**
**هغه عبارتونه چې د ښوونکي څخه د پوښتنې کولو لپاره کارول کیږي:**

Can you please explain/repeat the last point?
د مهربانۍ له مخې آیا کولای شئ چې وروستی ټکی یو وار بیا تشریح/ تکرار کړئ؟
Of course. بېشکه/ البته
Ma'am, when is the exam? ښوونکې! ازموینه کله ده؟
You'll have the first test on May 2nd. تاسي به د (مې) په (دوهمه) لومړنۍ ازموینه ولرئ.
I'm having trouble with this problem/assignment. Can you help me?
زه ددې سوال/ کورنۍ دندې سره ستونزه لرم. آیا ما سره مرسته کولای شئ؟
Okay. Which part? سمه ده. کومه برخه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Phrases Teachers Say in Class :هغه عبارتونه چې په ټولګي کې د ښوونکي له خوا ويل کيږي**

These are some statements and questions that are commonly said by teachers in a classroom.

دا هغه وېناوې يا پوښتنې دي چې په عمومي ډول په ټولګي کې د ښوونکو له خوا کارول کيږي.

- Have you all done your homework? آيا تاسې ټولو خپلې کورنۍ دندې ترسره کړي دي؟
- Why are you late again? ته بيا ولې ناوخته شوې؟
- Stop talking in class and pay attention! په ټولګي کې خبرې بس کړئ او متوجه شئ!
- Are there any questions? آيا کومه پوښتنه شته؟
- It's time for attendance… د حاضرۍ وخت دی ...
- Is there anyone in class without a textbook? آيا په ټولګي کې له کتاب څخه پرته څوک شته؟
- Can someone come to the board and solve this equation?
  آيا کوم يو کولای شي چې تختې ته راشي او پوښتنه حل کړي؟
- Switch on/off the lights. ګروپونه روښانه کړئ/ بند کړئ.

**Phrases Teachers Use to Check for the Students' Understanding**

**هغه عبارتونه چې ښوونکی يې د زده کوونکو د پوهې د معلوموللو لپاره کاروي:**

- Are there any questions? آيا کومه پوښتنه شته؟
- Did you understand what I said? آيا پوه شوئ چې ما څه وويل؟
- Should I repeat the last point? آيا وروستی ټکی بيا تکرار کړم؟
- So, was the meaning clear to all? نو، مفهوم/ مطلب ټولو ته روښانه و؟

**At school – English sentences** **په ښوونځي کې انګليسي جملې:**

1. I like my school. زه خپل ښوونځی خوښوم.
2. I have interesting subjects. زه په زړه پورې مضمونونه لرم.
3. I've found lots of friends here. ما دلته ډېر ملګري پيدا کړي دي.
4. I've attended this school for 6 years. ما په دې ښوونځي کې د (۶) کالو لپاره ګډون کړی دی.
5. I'm good at math. I'm not so good at biology. زه په رياضي کې ښه يم. زه په بيولوژي کې ډېر ښه نه يم.
6. I'm leaving school in summer. زه په اوړي کې ښوونځی پرېږدم.
7. I'm going to start an apprenticeship as a shop assistant. زه به د خرڅونکي په توګه شاګردي پيل کړم.
8. I hope to pass my exams well. زه هيله لرم چې خپلې ازموينې په سمه توګه تېرې کړم.
9. Are you going to study for the exams with me? آيا ته به د ازموينو لپاره زما سره مطالعه پيل کړې؟
10. Do you have an apprenticeship? آيا ته شاګردي لرې؟

**Common Words and Phrases** **عامې کلمې او عبارتونه:**

- Student or pupil (UK) زده کوونکی
- Classmates ټولګيوال
- Classroom ټولګی/ صنف
- Teacher or professor ښوونکی
- Periods and subjects ساعتونه او مضمونونه
- Lessons درسونه
- Timetable or schedule مهالوېش/ تقسيم اوقات
- Textbooks کتابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Exercise books (UK) or workbooks (US) کار کتابونه/ د تمرین کتابونه
- Stationery قرطاسیه
- Break or recess تفریح
- Lunchbox or lunch kit د خوړو صندوق/ قطغ داني
- Other school rooms د ښوونځي نورې خوني
- Concert hall or auditorium کنفرانس خونه
- Staffroom د کار کوونکو خونه
- Playground لوبغالی
- Corridors (UK) or hallways (US) دهلیز
- Stairs زیني
- Lift (UK) or elevator (US) لفټ
- Washroom (UK) or restroom (US) تشناب

## How to Host A School Assembly…

**څنګه د ښوونځي د اسمبلۍ کوربه توب وکړو...**

**<u>Script to Host a School Assembly</u>** **د ښوونځي د اسمبلۍ لپاره سکریپټ**
**Start With Praising God** **د الله تعالی په ستاینې سره پیلول**
**Introduce Yourself and Welcome Everyone** **د ځان معرفت او ټولو ته ښه راغلاست**
**Calling National/ Education Anthem Team** **د ملي سرود/ پوهني ترانې تیم راغوښتل**
**Calling the Students for Speech** **زده کوونکي د وینا لپاره راغوښتل**
**Principal's Message / Speech** **د مدیر وینا/ پیغام**
**Students Message to the Principal/ Teacher** **د زده کوونکو پیغام مدیر/ ښوونکو ته**
**Award Distribution to The Students** **زده کوونکو ته د ډالیو وېش**
**Final Thank You Message** **د منني وروستی پیغام**

**یادښت:** درنو زده کوونکو! دا د ښوونځي د اسمبلۍ یو عمومي چوکاټ دی چې په دې توګه تاسي کولای شئ د ښوونځي د اسمبلۍ کوربه توب وکړئ.

### Contents You Can Add in a School Assembly Checklist:

**هغه موضوعات چې تاسي کولای شئ د ښوونځي د اسمبلۍ په چک لیسټ کې یې شامل کړئ:**

List of people who are giving a speech د هغو خلکو لیسټ چې وینا کوي

Activities such as games, debate, question and answer session, and so on...

فعالیتونه لکه: لوبې (ګیمونه)، بحث، د پوښتنو او ځوابونو برخه او داسي نور...

Principal's Message د مدیر پیغام
Students Message د زده کوونکو پیغام
Animal Awareness د حیواناتو په اړه پوهاوی/ خبرتیا
Distributing gifts/prizes د ډالیو وېش

**Note:** you can host the function alone or enlist 1 more speaker or anchor to host the program with you. If you choose 1 more person to be a presenter at the assembly, start working and preparing as early as possible and give plenty of time for him/her to practice and get ready.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يادښت:** تاسي کولای شئ چي په يوائې توګه کوربه توب وکړئ او يا هم کوم بل شخص له ځان سره ونيسئ. که چېري مو بل ملګری له ځان سره وټاکه نو هڅه وکړئ چي مخکي له مخکي چمتوالی ونيسئ او ملګري ته مو د تمرين لپاره ډېر وخت ورکړئ.

### Starting with Praising God

**د الله تعالی په ستاينې سره پيلول**

In the name of Almighty Allah who is the most beneficent the most merciful.

د الله تعالی په سپېڅلي نامه څوک چي ډېر مهربانه او رحم کوونکی دی.

### Introduce Yourself and Welcome Everyone

**د ځان معرفت او ټولو ته ښه راغلاست**

I am Fiza and my colleague Khkola on behalf of the sixth grade warmly welcome the teachers, students. You will expect an awesome and entertaining assembly ahead. The students' debate, different performances, games, and messages will keep you happy.

زه فضاء او زما همکاره ښکلا د شپږم ټولګي په استازيتوب ټولو ښوونکو او زده کوونکو ته تود هرکلی/ ښه راغلاست وايو. تاسي به يوي په زړه پوري او تفريحي اسمبلی ته سترګي په لار ياست. د زده کوونکو مناظره، ډول ډول فعالتونه، لوبې او پيغامونه به تاسي خوښ وساتي.

We have worked so hard to plan and organize this morning's assembly, I must hear loud claps for the performance of every student and participant.

موږ د نن ورځي د اسمبلی په ترتيب او پلان ډېر سخت کار کړی دی. زه بايد د هر زده کوونکي او ګډونوال د فعاليت/ نمايش لپاره ستاسي د لاسونو پړکا/ چک، چک واورم.

### Calling the National/ Education Anthem Team

**د ملي سرود/ پوهني تراني تيم ته بلنه**

The students on Educational Anthem Team are coming to the podium, for presenting the education anthem. So, please a big round of applause for them to come on the stage.

د زده کوونکو د پوهني تراني تيم دريځ ته راځي تر څو د پوهني ترانه وړاندي کړي؛ نو تاسي ورته ښه د لاسونو پړکا وکړئ چي هغوی سټيج ته راشي.

This was indeed a great performance ever I have seen by children of this age and I am sure you also enjoyed and were amazed by their performance.

تر کومه چي ما ليدلي دي، دا د دې عمر د ماشومانو لپاره يوه لويه کړنه ده او زه باوري يم چي د دوی کړني به تاسي حيران کړي ياست او خوند به مو تري اخيستی وي.

### Calling the Students for Speech

**زده کوونکو ته د وينا لپاره بلنه**

Now a student from class sixth "Wahid" is ready to have more discourse on the given topic of the day. Please appreciate him/her with a thunder of claps to come on the stage and share his/her views.

اوس د شپږم ټولګي يو زده کوونکی (وحيد) چمتو دی چي د ورکړل شوي موضوع په اړه نوري خرګندوني وکړي. نو مهرباني وکړئ د خپلو لاسونو په پړکا يي وستايئ چئ د دريځ مخي ته راشي او خپل نظرونه وړاندي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



A brilliant speech by Mr./Ms "Wahid" I hope all the students have comprehended the shared points. This time now to call another speaker from class……………..to come on the stage and share his/her precious opinion about the given topic of the day………………….

او د (...............) ټولګي يو بل زده کوونکي ته بلنه ورکوو چې د درېځ مخې ته راشي او خپل ارزښتمند نظر شريک کړي.

**Principal's Message / Speech**

**د مدير پيغام/ وينا**

At this stage, I kindly request honorable principle/ teacher to come on the stage and share his precious thoughts.

د اسمبلی په دې برخه کې له ښاغلي مدير صاحب/ ښوونکي څخه په ډېره احترامانه توګه هيله کوم چې درېځ/ ستېج ته راشي او خپلې ارزښتمنې ويناوې وړاندې کړي.

**Students Message to the Principal/ Teacher**

**د زده کوونکو پيغام مدير/ ښوونکي ته**

Thank you so much honorable principle/ teacher for sharing your precious thoughts with today's assembly.

د ښاغلي مدير صاحب/ ښوونکي څخه په اسمبلی کې د ارزښتمنو ويناو د شريکولو په خاطر ډېره زياته مننه کوم.

**Award Distribution to The Students**

**زده کوونکو ته د ډاليو وېش**

To appreciate and acknowledge the result of the hard works you all have done, the school staff members have prepared some awards for the participants. I kindly request the director and principal of the school to come on the stage and give away the awards to the students.

ستاسي د کوښښونو د ستايني او تصديق په خاطر د ښوونځي اداري غړو ستاسي لپاره څه ډالی چمتو کړي دي. د ښوونځي د رئيس او مدير څخه په ډېر درنښت هيله کوم چې درېځ ته راشي او زده کوونکو ته خپلې ډالی ورکړي.

**Final Thank You Message**

**د مننې وروستی پيغام**

I want to thank all the participants of today's assembly. You all performed your tasks with grace and enthusiasm. We will wait to see more interesting activities in the coming school assembly days. Wish you all the best lessons.

غواړم د نن ورځې د اسمبلی د ټولو ګډونوالو څخه مننه وکړم. تاسي ټولو خپلې دندې په پوره شوق او لېوالتيا سره تر سره کړې. د نورو په زړه پورې فعاليتونو لپاره به د راتلونکو ورځو اسمبلی ته په طمع شو. تاسي ټولو ته ښه درسونه غواړم.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**